د افغانستان اسلامي جمهوري دولت

اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسیون

دولت جمهوری اسلامی افغانستان

کمیسیون دسترسی به اطلاعات

Islamic Republic of Afghanistan

Access to Information Commission

## اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسیون غونډه

| | |
|---|---|
| نېټه | ۱۳۹۹ کال د وږي ۳۰ مه |
| ځای | اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسیون دفتر، کابل، افغانستان |
| دغونډې رییس | ښاغلی عین‌الدین بهادري د کمېسیون کمیشنر او رییس |
| گډونوال | د کمېسیون منشي او کمېشنر ښاغلی حمدالله ارباب، کمېشنره آغلې زهرا موسوي، د دارالانشا رییس ښاغلی عصمت‌الله حیدري |
| دغونډې تنظیمونکی | محمدحسن پویا |

اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسیون اونیزه غونډه نن د ۱۳۹۹ کال د وږي په ۳۰مه د کمېشنرانو او د دارالانشا رییس په شتون کې تر سره شوه. د نورو موضوعاتو تر څنگ په لاندې سکالوگانو بحث وشو.

۱. **د دارالانشا رییس ښاغلي عصمت الله حیدري لخوا د اونیز راپور ارایه.**

۲. **له کمېسیون سره د یونسکو مرسته:** د دارالانشا رییس، په نږدې راتلونکي کې په کمېسیون کې د یونسکو په ملاتړ د اړیکو او ټولنیزو رسنیو په هکله د ښوونیرو پروگرامونو ترسره کولو په اړه غړو ته راپور ورکړ.

۳. **نوې گمارنې:** د کمېسیون د څارنې او ارزونې آمریت بیت ازموینه د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو کمېسیون لخوا اخیستل شوې ده. یاد کمېسیون ته د وروستیو پایلو استولو وروسته به مخامخ (مصاحبه) ازموینه واخیستل شي. د معتمد جنسي بست ازموینه به ډېر ژر واخیستل شي خو د نغدي معتمد بست په هکله د مخکېني شکایت کوونکي شکایت لا نه دی وروستی شوی. په دې برخه کې د کمېسیون غړو د دارالانشا ریاست ته هدایت ورکړ چې موضوع د قانون او اصولو په رڼا کې حل کړي او نغدي معتمد وگماري.

۴. **د جنراتور پېرل:** د کمېسیون اړتیا پر بنسټ جنراتور پېرل شوی دی، کله چې برق قطعه شي نو له یاد جنراتور څخه گټه اخیستل کېږي. جنراتور ته د سیورې برابرولو او ساتنې په برخه کې دارالانشا ریاست هدایت ورکړل شوی تر څو په دې برخه کې اړین اقدامات وکړي.

۵. **ولایتي سفرونه:** دوه ولایتونو بلخ او هرات ته د سفر په برخه کې د کمېسیون څېړنې ترسره شوي دي او د پاتې نوي زره افغانیو په هکله وړاندیز شوی دی تر څو نورو ولایتونو ته د سفر په وخت کې له مالیه وزارت سره په مشورې تر گټه واخیستل شي.

۶. **شکایتونو ته رسېدنه:** شکایتونو ته د رسېدنې پروسه په عادي ډول روانه ده. یاد آمریت ته د سندونو فایلنگ او په اسانه لاسرسي لپاره الماری پرېرل شوې او ورکړل شوې ده. ورپسې اړوند آمریت ته هدایت ورکړل شو تر څو د دې ځانگې ټول مکتوبونه سکن کړي او په یو سم مدیریتي سېستم باندې کار وشي.

کمیسیون نظارت دسترسی به اطلاعات
Oversight Commission on Access to Information
۱۳۹۲ هـ.ش


خانه چهارم، سرک ششم قلعه فتح الله، شهر کابل، کابل، افغانستان

www.aic.gov.af info@aic.gov.af ۰۰۹۳(۰)۷۸۹۶۰۵۹۷۳

سربېره پر دې شکایتونو ته د رسېدنې او څېړلو لپاره پر یو مجهزه او ځانګړي خونې باندې هم بحث وشو چې یاده سکالو تایید شو او ښاغلي ارباب په دې برخه کې د همکارۍ ژمنه وکړه.

۷. **عامه پوهاوی:** ملیتلویزیون ژمنه کړې چې د کمېسیون کړنو او کارونو په هکله به یو تصویري مستند جوړ کړي. ورپسې ویل شوي دي؛ اطلاعاتو ته د لاسرسي نړیوالې ورځ پروګرام کې د خبریالانو خوندیتوب کمېټې یا د افغانستان روڼتیا څار اداري په همکاري یو درې دقیقي انځوریز کلیپ پرته د هغوی له برند څخه جوړه او خپور کړي.

۸. **تدارکات:** د کمېسیون د اړتیا وړ قرطاسیه باب د پېرلو پروسه نږدې په بشپړېدو ده. د زرهي موټرو لپاره د پرش او د الکترونیکي حاضرۍ اړین وسایل طی مراحل شوي دي. د کمېسیون ۵ ورانديز شوي موټر پېرل شوي دي او د اړوندې ځانګې د معلوماتو پر بنسټ موټر د حیرتانو بندر ته رسېدلي دي.

در ادامه جلسه روی چگونگی برگزاری و محتوای محفل تجلیل از روز جهانی دسترسی به اطلاعات (۲۸ سپتامبر) که قرار است در ارگ ریاست جمهوری برگزار گردد نیز بحث و تبادل نظر صورت گرفت و موارد زیر فیصله شد:

ورپسې اطلاعاتو ته د لاسرسي نړیوالې ورځ ( ۲۸ سپټمبر) نمانځلو په هکله چې ولسمشرۍ ماڼۍ په ارګ کې نمانځل کېږي بحث او اندونو تبادله وشوه.

درنښت

د کمېسیون رییس‌عین الدین بهادري

د کمېسیون منشي ښاغلی حمدالله ارباب

د کمېسیون کمېشنره زهرا موسوي

کمیسیون نظارت دسترسی به اطلاعات
Oversight Commission on Access to Information
۱۳۹۳ هـ ش